جمهوری اسلامی افغــانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

---

# د رسنیو د چلند اصول

د بیان د ازادی د حق، اطلاعاتو ته د خلکو د لاسرسي او په ټاکنیزو چارو کې د اړتیا په پام کې نیولو سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د قانون د ۶ مې، ۴۶ مې، ۵۹ مې او ۶۶ مې مادې او د ډله ییزو رسنیو د قانون پربنسټ د چلند دا اصول د ټاکنیزو پروسو په جریان کې د رسنیو د ونډې اخیستنې د تنظیم په موخه تدوین کړی دی. هغه رسنی چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون څخه د ټاکنو په بېلا بېلو پروسو کې د ونډې اخیستنې په موخه باورلیکونه ترلاسه کوي، باید د ټاکنو په اړه د رپوټونو د چمتو کولو پر مهال خپل ټول فعالیتونه د افغانستان د اساسي قانون، د ټاکنو د قانون، د ډله ییزو رسنیو د قانون، کړنلارو، کړندودونو، د چلند د دې اصولو او په دې اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټولو پرېکړو سره سم، تنظیم کړي.

د چلند د دې اصولو څخه د خبري رسنیو او یا یې د استازو په واسطه هر ډول سرغړونه، کولای شي چې سرغړونکي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون او د رسنیو د کمیسیون چې د ټاکنو په قانون او په ټاکنیز بهیر کې رسنیزو سرغړونو د غور لاندې نیولو په کړندود کې یې وړاندوینه شوی ده، د تحریماتو او جدي اقداماتو سره مخامخ کړي.

رسنۍ او د خبري رسنیو استازي چې د کمیسیون له خوا یې باورلیک ترلاسه کړی دی، (باید):

۱. د ټاکنو پورې اړوند د هغو رپوټونو د خپرولو څخه چې د تاوتریخوالي او یا د نژادي، قومي، ژبني، سیمه ییز، جنسي او یا مذهبي تبعیضاتو لامل گرځي، په کلکه ډډه وکړي.

۲. د ټاکنو په اړه د دوی رپوټونه د حقیقت پر بنسټ وي او باید په منصفانه، متعادله او دقیقه توگه او بشپړ بې پرېتوب سره چمتو او خپاره شي او دغه راز به کمیسیون رسنیو ته د معلوماتو وړاندې کولو په برخه کې یو ډول همکاري کوي.

۳. په پراخه توگه د کمیسیون په همکارۍ سره عامو خلکو ته د ټاکنو د بېلا بېلو پروسو په اړه معلومات ورسوي.

۴. د ناسمو معلوماتو د چاپ او خپرولو څخه چې په ټاکنو کې د عامه ذهنیتونو د اندېښنې د راپیدا کېدلو لامل وگرځي، په کلکه سره ډډه وکړي.

۵. د حقیقي او حکمي شخصیت یا د نوماندانو د کړووړو په اړه د دې لپاره چې د ټاکنو په پایلو اغېزه ولري، د هر ډول دروغجنو او تور لگوونکو څرگندونو د چاپولو او خپرولو څخه په کلکه سره ډډه وکړي.

۶. له دې څخه ډډه وکړي چې خپل رپوټونه د بې پرېتوب د اصل په نه پام کې نیولو سره په داسې حال کې چې خپل ټول فعالیتونه د یوه ځانگړي نوماند، گوند او یا ائتلاف په گټه ترسره کوي، خپاره کړي او همدارنگه باید د یوه سیاسي گوند، ائتلاف او یا د ځانگړي نوماند په تاوان د تبلیغاتو د خپرولو څخه په کلکه سره ډډه وکړي.

۷. د معلوماتو په چمتو کولو او خپرولو کې د باور وړ ارقامو او رپوټونو څخه استفاده وشي او هم د اوازو د خپرولو څخه په کلکه سره ډډه وشي.

۸. د قانون سره سم د نظرونو او معلوماتو په خپرولو کې د سرچینو ذکر کول اړین گڼل کیږي.

۹. په هغه صورت کې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په خبرونو یا د ټاکنو په اړه په رسنیزو رپوټو کې د موجودو تېروتنو د سمون په اړه غوښتنه وکړي، باید اسنادو ته په کتو سره، په دې اړه ژر تر ژره اقدام وکړي.

۱۰. مکلف دي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو د کمیسیون پرېکړې تطبیق کړي.

ما (                    ) (                    ) پورته ذکر شوي اصول مطالعه کړل او د دې په اړه مې اړین پوهاوې ترلاسه کړو او د (                    ) په استازیتوب ژمنه کوم چې د ټاکنو پورې د اړوندو خپلو ټولو فعالیتونو په ترڅ کې به یاد اصول په پام کې نیسم.

ځای: ____________________

نېټه: ____________________

لاسلیک: ____________________